مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آريا

۲۰۲۶/۰۷/۱۳

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یوسلاو نهمه برخه)

### صديق کاوون توفاني

د غوايي له پاځون وروسته د پلار وطني ملي جبهې / جبهـهٔ ملي پدر وطن د مرکزي کمېټي منشي.

### غلام صديق توره باز [1]

د پوليسو او د ژاندارم د پخواني مشر توره باز خان زوی په ۱۹۲۳ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. له ۱۹۳۰ تر ۱۹۴۲ز کال پوري د حبيبيې ليسي ته تللی دئ. له ۱۹۴۵ تر ۱۹۴۷ز کال پوري د کابل حربي پوهنتون ته تللی دئ او په ۱۹۵۷ز کال کي ئـي د امريکا د متحده ايالاتو د پلي ځواک په ښوونځي کي روزنه ليدلې ده. په ۱۹۵۸ز کال کي په لبنان کي د ملګرو ملتونو په ناظر ګروپ کي وو. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پوري د "امريکا د متحده ايالاتو د کماند جنرال ستاف کالج" [2] کي وو. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۳ز کال پوري د ستردرستيز جنرال سيد حسن ياور. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۷۱ز کال پوري د ملي دفاع د وزارت د لوژيستيک او استخباراتو د رياستونو کارمند. له ۱۹۷۳ز کال راهيسي هېواد ته د نورو هېوادونو د ملېمه مشرانو ياور. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۵ز کال پوري د NCO د اکاډيمی بولندوی. د اکاډيمی د تخنيکي خدماتو بولندوی. په ۱۹۷۶ز کال کي د ملي دفاع د وزارت د تخنيکي خدماتو رئيس. په انګليسي، روسي، تورکي، فرانسوي او چکي ژبو خبري کوي.

### توره باز خان [3]

د تګاب د صافيانو له يوې کورنۍ څخه دئ. توره باز د "توره ايستونکی/ شمشير کش" په معنی ده. دی د صدر اعظم محمد هاشم پر مهال د پوليسو مشر وو. د ټينګ / سخت ګير او شديد دسپلين افسر په نوم ئـي شهرت درلود. ددهٔ کور مخي ته څلور لاري د توره باز خان د څلور لاري په نوم يادېږي. په ۱۹۴۶ز کال کي تقاعد سو او په ۱۹۸۲ز کال کي وفات سو.

---

[1] - زه ژباړونکی نـهٔ پوهېږم چي ولي پخواني ميرزايان او د هغوی په دوام يو شمېـر ليکوالان د توره باز/ شمشير زن نوم د طره باز يا تور اباز په غلطو ډولونو ليکي. په انګليسي کتاب کي هم په عربي الفباء ئـي کټ مټ طره باز ليکلي دي.

[2] -Command General Staff College, United States

[3] - په انګليسي کتاب کي ئـي بيا هم په عربي الفباء توره باز ئـي طره باز ليکلی دی. او په انګليسي متن کي ئـي شرحه هم ورکړې ده – ژ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

## مـحـمـد امین ترابي

د مـحـمـد اکبر زوی په ۱۹۱۲ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. د لومړني او منځني ښوونځي له بشپړولو وروسته په دولتي مأموريت کې شامل سو. شاعر.

## عبدالرؤوف ترکمنی

په ۱۹۱۰ز کال کې په تورکمن درې کې زېږېدلی دئ. تر تقاعد پورې ئـې په وسله وال ځواک کې کار وکړ. په ۱۹۶۶ز کال کې د پيام امروز محرر. په ۱۹۶۶ز کال کې د پيام وجدان بنسټ ايښودونکی او محرر ٫چې په افغانستان کې ئـې د قومي ټولنو تر منځ د مساوات تبليغ کاوۀ. ويل کـېږي چې د خلقيانو د واکمنۍ پر مهال اعدام سو. لور ئـې عزيزه، شاه علي اکبر شهرستاني ته وادۀ سوې ده. مورنۍ ژبه ئـې دري ده.

## ډاکتر نجيب الله تور وايانا [4]

د مـحـمـد يونس زوی په ۱۹۰۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ؛ ٫د مـحـمـد يونس مور د امير عبدالرحمن خان لور ده٫. د استقلال له ليسې او د کابل پوهنتون د حقوقو له پوهنځي فارغ سوی دئ. خپله دکتورا ئـې په برتانيې کې اخيستې ده. د ادبي او تأريخي ټولنې غړی. په ۱۹۴۶ز کال کې د باندنيو چارو د وزارت د سياسي چارو عمومي مدير. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۴۹ز کال پورې په برتانيې کې د افغان سفارت سفير؛ په ۱۹۴۸ز کال کې د هندوستان سفير. په ۱۹۵۰ز کال کې د امريکا سفير. تأريخ پوه او ګڼ شمـېر خپارۀ سوي آثار لري.

## ډاکتر عرب ګل توتاخيل

خپله دکتورا ئـې په شوروي اتحاد کې اخيستې ده او ويل کـېږي چې د ٫کيک پخولو٫ [5] په نوم ئـې يوه رساله ليکلې ده. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۲ز کال پورې د سرې مياشتې سکرتر جنرال. مورنۍ ژبه ئـې پښتو ده.

## مـحـمـد امین اوچون

په ۱۹۸۰ز کال کې د يلدز محرر.

## ډاکتر عبدالرحمن الفت

د ګل پاچا الفت زوی په ۱۹۴۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۱ز کال کې د غازي له ليسې څخه له فارغېدلو وروسته د کابل پوهنتون د حقوقو په پوهنځي کې شامل سو. د يوۀ سکالرشيپ له ترلاسه کولو وروسته د امريکا متحده ايالاتو ته لاړ او د مريلند له کالج پارک څخه ئـې خپل ليسانس او ماستري او خپله دکتورا په ۱۹۷۲ز کال کې تر لاسه کړله. په ۱۹۷۳ز کال کې د سعودي عربستان د پلان جوړولو په وزارت کې کارمند. د کرنيزسکتور

[4] - تور وايانا : د توره وهونکي يا شمشير باز په معنی ده. د توروايانا نوم د کوشاني سلاطينو په مسکوکاتو کې د يوې سکې پر مخ هم ضرب سوی دی. لوی استاد علامه حبيبي هم د افغانستان په لنډ تأريخ کې ورته نغوته کړې ده. دغه مسکوکات تاسو کولی سئ د لرغوني آريانا په کتاب کې زما په ژباړه کې وګورئ. دا کتاب په ۱۸۴۱ز کال کې پوهاند اچ.اچ. ولسن په لندن کې ليکلی دئ. دغه مسکوکات د شرق الهند د کمپنۍ لرغون پېـژندونکو او جواسيسو د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه راټول کړي دي. ــژ

[5] -Cake Baking


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

سلاکار. د کرنیز سکتور مشر. د طبیعي سرچینو د ریاست رئیس. د تحقیق او مطالعاتو د ریاست رئیس. د وزیر سلاکار.

## عزیزالرحمن الفت

د گل پاچا الفت زوی په ۱۹۳۶ز کال کې د کاپیسا په کوهستان کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۶ز کال کې د غازي له لیسې څخه له فارغېدلو وروسته د کابل پوهنتون د حقوقو په پوهنځي کې شامل او په ۱۹۶۰ز کال کې ورڅخه فارغ سو. په جلال آباد، کندهار، بگرام، گلران، هرات او نورو ځایونو کې رسمي مأمور. په ۱۹۶۴ز کال کې د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ او په ۱۹۶۶ز کال کې ئې د اندیانا له پوهنتون څخه خپله ماستري تر لاسه کړله. په کندز کې د ښاروال په توگه ئې یوه وینا وکړه او ددې باعث سوه چې شپږ میاشتې زنداني سي. په ۱۹۷۷ز کال کې ئې له حکومتي خدماتو څخه د خپلې استعفی غوښتنه وکړه خو غوښتنه ئې ونـهٔ منل سوه. واکمنی ته د مارکسیستانو له رسېدلو وروسته په بېلا بېلو نومونو ئې گوندونه جوړ کړل. د مجاهدینو په ملاتړ ئې گڼ شمېر آثار او مقالات لیکلي دي. د جهاد له نوم څخه ناوړه گټه اخیستنه ئې په ټینگه تنقید کړه. د ۱۹۸۳ز کال د سپتمبر په میاشت کې ‹ د ۱۳۶۲ل کال د وږي/سنبلې د میاشتې په نولسمي نېټې› په پېښور کې ووژل سو.

## گل پاچا الفت

د میر سید پاچا زوی، په ۱۹۰۹ز کال کې د لغمان د عزیز خان په کڅ کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې په اسلامیاتو کې کړي دي. په ۱۹۳۶ز کال کې د انیس د ورځپاڼې محرر. په ۱۹۳۶ز کال کې د پښتو ټولنې غړی. په ۱۹۳۷ز کال کې د «انجمن ِ ادبي» غړی. په ۱۹۳۸ز کال کې د «زیري» د ورځپاڼې مدیر. په ۱۹۴۰ز کال کې د پښتو په اکاډیمۍ کې د «هیمانات»[6] مدیر. په ۱۹۴۱ز کال کې د پښتو د ژب ښوونې/ گرامر او ژبې د مدیریت مدیر. په ۱۹۴۲ز کال کې د اصلاح مدیر. په ۱۹۴۲ز کال کې د کابل مجلې مدیر. په ۱۹۴۷ز کال کې د اتحادِ مشرقي مدیر. په ۱۹۴۹ز کال کې په ننگرهار کې د قبائیلو د چارو ولایتي مدیر. په ۱۹۵۰ز کال کې د ملي شورى دوهم سکرتر. د ۱۹۵۶ او ۱۹۶۴ز کلونو د لویو جرگو غړی. په ۱۹۵۷ز کال کې د پښتو اکاډیمۍ رئیس. په ۱۹۶۳ز کال کې د قبائیلو د ریاست رئیس. د ولسي جرگې او ۷ او ۸ دورو غړی. د ولس د خپروني څښتن او محرر. د وېښ ځلمیانو یو له بنسټ ایښودونکو څخه دئ. په لیکوالۍ کې ئې د خوشحال خان او ابن سینا جوایز تر لاسه کړي دي. د پښتو یو له مشهورو شاعرانو څخه دئ. گل پاچا الفت ځانته لیکنیز سبک لري چې د خپلې ښکلا، ساده گۍ او ژورې معنی ځانگړی راښکون/ جذابیت لري او خلک ورته لیوال دي. الفت یو ټولنیز کره کتونکی / نقاد او سیاسي لیکوال دئ. په خپلو لومړنیو لیکونو کې یو ډېر ټینگ نشنلیست دئ او د خپل ژوند په منځنیو کلونو کې لزوماً د اخلاقي ارزښتونو پر شپول راځي خو د ژوند په وروستیو کلونو کې منحصراً یو مذهبي لیکوال گرځي. ددهٔ له مړیني وروسته ددهٔ د اشعارو ټولگه اکثراً دیني اشعار دي او یو نثر ددهٔ په کاغذونو کې وموندل سول. الفت د ۱۹۷۷ز کال د دسمبر په شلمې نېټې وفات سو. الفت پینځه زامن او یوه لور لري. مېرمن ئې په پېښور کې په هجرت کې وفات سوه. مورنۍ ژبه ئې پښتو وه.

[6] Himanat - : زه ژباړونکی په دغه لغت پوه نـهٔ سوم او نـهٔ مې په قوامیسو کې وموند. زما په گومان ددغـهٔ نوم په لیکلو کې ټایپي تېروتنه سوې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## عليا حضرته سراج الخواتين

د لوی ناب خوشدل خان ناسکه خور، د لوی ناب شیر دل خان لور او د شاغاسي محـمـد سرور خان ناسکه لور ده. نوم ئـي سرور سلطانه دئ. د امیر حبیب الله خان مشره مېـرمن او د امیر امان الله خان مور. په ۱۹۱۶ز کال کې ویل کېـدل چې نوموړې په ټول قوت سره د ناپیلتوب/ بې طرفی پلوئ وه. سرور سلطانه د ډېـر پیاوړي کرکټر خاونده وه چې په سیاست کې ئـي مداخله کوله. ویل کېـږي چې په ۱۹۱۶ز کال کې د ,,تورک ــو ــ جرمن،، [7] له ماموریت سره د مرستي له کولو وړاندیز ئـي رد کړ. ویل کېـږي چې په ۱۹۱۷ او ۱۹۱۸ کلونو کې ئـي په سیاسي چارو کې د مداخلت له کبله له امیر حبیب الله خان سره شخړه کوله او پایله ئـي دا سوه چې له ارگ څخه اخراج سي. د امیر حبیب الله له وژل کېـدلو وروسته کابل ته راغله چې له خپل زوی امان الله سره خبرې اترې وکړي. سرور سلطاني د عبیدالله په نوم یو بل زوی هم درلود چې په شاه آغا مشهور وو او په ۱۹۱۵ز کال کې زېـږېـدلی وو. د ۱۹۲۸ز کال د دسمبر په میاشت کې له ملکې ثریا سره کندهار ته لاړه او د دراني سلطنتي کورنی لپاره د مرستې د راټولولو لپاره لاس په کار سوه. د ۱۹۲۹ز کال د مي په میاشت کې ئـي امان الله خان سره بمبـئـي ته د سفر ملتیا وکړ. د ۱۹۲۹ز کال د جون په میاشت کې له امان الله خان سره په کښتی کې ایتالیا ته لاړه. په ۱۹۳۰ز کال کې په برلین کې وه، له ۱۹۲۹ تر ۱۹۳۵ز کال پورې په اروپا کې پاتې سوه او تر ډېره په روم کې د امان الله خان په استوگنځي کې وه خو کله نا کله به د سویتزرلند ,,مونترو،، [8] او برلین ته راتله. په ۱۹۶۵ز کال کې په استانبول کې وفات سوه.

## نور بیا

**غلام مـحـمـد اورمړ ,,حـیـرت،،**

د حاجي امرالله اورمړ زوی په ۱۹۱۸ز کال کې...

[قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک]

---

[7] - Turco- German Mission
[8] - Montreux Switzerland


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ